د ستراتيژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحليل هفته

**ګڼه: 490**

(16 - 20 سنبله 1404 هـ ش)

## د افغانستان په اړه د روسيې فدراسيون دريځ؛ پر يوې مقالې تحليلي تبصره

---



دا نشريه د افغانستان او سيمې د مهمو سياسي، امنيتي، اقتصادي او ټولنيزو پېښو د تحليل اوونيزه خپرونه ده چې د ستراتيژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګليسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې ګڼه کې لولئ:


- د افغانستان په اړه د روسيې فدراسيون دريځ؛ پر يوې مقالې تحليلي تبصره.............................3
- د مقالې محتوا ته لنډه کتنه.................................................................3
- د مقالې د محتوا تحليل.....................................................................5
- د داسي مسلو په راپورته کولو کې د روسانو اهداف.......................................................7
- پايله........................................................................................8
- وړانديزونه...................................................................................8
- سرچينې......................................................................................9


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## د افغانستان په اړه د روسیې فدراسیون دریځ؛ پر یوې مقالې تحلیلي تبصره

### سریزه

سرګې شویګو، د روسیې د ملي امنیت شورا سکرتر چې پخوا د دې هېواد د دفاع وزیر و او د روسیې له لوړو پوړو چارواکو شمېرل کیږي، هغه د ۲۰۲۵ز.کال د اګست په ۲۹مه چې د ۱۴۰۴ ه.ش کال د سنبلې له ۷مې سره سمون خوري د افغانستان په اړه "افغانستان: د ثبات په لور ننګونکې لار" په نوم یوه مقاله په روسیاسکایا ګازیتا (Rossiyskaya Gazeta) ورځپاڼه کې خپره کړې د شویګو مقاله په څو اړخونو کې د پام وړ ده. لومړی، دا مقاله د روسیې د یو لوړ پوړي امنیتي چارواکي لخوا لیکل شوې او طبیعي ده چې د امنیتي دستګاه کلی او رسمي نظر او په عمومي توګه د افغانستان په اړه د کریملین نظر منعکس کوي. دویم دا چې دا مقاله په یوه خورا معتبرې دولتي ورځپاڼه کې خپره شوې چې د روسیې د رسنیو په لیکه کې مهمه بلل کیږي او ددې مسلې اهمیت لا هم زیاتوي. دریم، دا مقاله په داسې وخت کې لیکل شوې چې روسیه لومړی او تر اوسه یوازینی هېواد دی چې د مقالې له لیکلو څخه نږدې دوه میاشتې دمخه یې د افغانستان اسلامي امارت په رسمیت وپیژاند. د دریو ټکو په پام کې نیولو سره، لاندې پوښتنې راپورته کیدی شي: د شویګو ارزونې د افغانستان د حقیقي وضعیت په پرتله څومره دقیقې دي؟ او ولې د کریملین یو له خورا مهمو او لوړ پوړو چارواکو لخوا د افغانستان په اړه داسې یوه مقاله ولیکې چې امنیتي او تقریبا منفي محتوا ولري؟ او روسان د داسې فضا په رامنځته کولو سره د څه شي د ترلاسه کولو په هڅه کې دي؟

### د مقالې محتوا ته لنډه کتنه

له هر څه د مخه، شویګو د خپلې مقالې په پیل کې دا جمله چې یقینا د افغانستان سره د لویدیځ د اړیکو په اړه د روسیې حکومت عمومي ارزونه منعکس کوي د خپل عمومي او اصلي نظر په توګه لیکلې: "د جګړې وروسته د افغانستان د بیارغونې ټول مسؤلیت باید د لویدیځو هېوادونو په غاړه وي." مقاله بیا عموما درې اصلي ټکو ته اشاره کوي. لومړی ټکی روښانوی او مقاله کې ترې یادونه شوې ده هغه د ۲۰۲۱م کال اګست میاشت له افغانستانه د متحده ایالاتو د شرمناک او بې نظمه وتل وو کوم چې لیکوال په مقاله کې د "تېښتې" کلمه ورته کاروي. همدارنګه د مقالې په پیل کې لیکل شوي: (څلور کاله وروسته، د سویلي آسیا هېواد [افغانستان] څخه د نړۍ د یو له خورا پرمختللي، ځواکمن او ټیکنالوژیکي لښکرو د شرمناکې تېښتې حیرانونکي انځورونه لاهم زموږ په یادونو کې تازه دي. د سرتیرو غیر منظم او غیر پلان شوي وتل، چې د افغان ملکي وګړو په منځ کې د تلفاتو لامل شو، د افغانستان په جبهه کې د جو بایډن اداري د پالیسۍ د ناکامۍ بشپړ مجسم و او همدارنګه د ډیموکراتیک دورې په جریان کې هغه ګډوډۍ چې د متحده ایالاتو بهرنۍ پالیسۍ باندې تسلط درلودل وو). دا عبارت، د امریکا د هغې پوځې الوتکې د انځور سره یوځای چې پر

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

ځمکه حرکت کوي او د خلکو یوه لویه ګڼه ګونه یې شاوخوا ګرځي، هم مستند شوی دی. دا هم ویل کیدی شي چې د مقالې د خپرېدو وخت چې له افغانستان څخه د امریکا د وتلو د څلورمې کلیزې په مناسبت خپره شوې هم یو تبلیغاتي اړخ لري او په ورته وخت کې، دې روسي چارواکي غوښتل چې یو ځل بیا د روسیې او نړۍ د عامه افکارو په ذهنونو کې د امریکا د ځواک قوت له منځه یوسي او له افغانستان څخه د هغه هېواد د وتلو یادونه وکړي.

د مقالې دوهمه موضوع د ۲۰۲۴م کال په نومبر میاشت کې کابل ته د هغه د سفر او د اسلامي امارت د پالیسیو په اړه یې د ارزونې یادونه ده. د شویګو په وینا، په کابل کې یو تفاهم شتون لري چې د سیاسي ښکیلتیا له لارې له نورو په ځانګړې توګه له روسیې سره رغنده تعامل کیدی شي او دا هم معلومه شوې چې د کابل چارواکي پوهیږي چې د اقتصادي پرمختګ او بهرنۍ پانګونې د راجلبولو لپاره د امنیت تامین یو پریکړه کونکی فکتور دی .

بله مهمه موضوع د مخدره توکو ده. د مخدره توکو په اړه لیکوال په افغانستان کې د مخدره توکو د کښت وده او پراختیا چې په ۱۹۸۰ یمه لسیزه پیل شوې وه څیړي او د ملګرو ملتونو په ګډون د نورو سرچینو د احصایو پر بنسټ یې تحلیلوي. د لیکوال په وینا: "په افغانستان کې د اپینو تولید د ۱۹۸۰ لسیزې راهیسې تر ټولو لوی غیرقانوني اقتصادي فعالیت و، چې تر ۱۹۹۹م پورې یې د ۴،۵۶۵ ټنو (د نړۍ د اپینو ٪۷۰) ریکارډ ته ورسید. په ۲۰۰۰م کال کې، اسلامي امارت د کوکنارو کښت منع کړ او تولید یې په چټکۍ سره کم کړ (په ۲۰۰۱م کې ۱۸۵ ټنو ته).تر دې چې په ۲۰۰۱م کال کې د متحده ایالاتو او د هغې د متحدینو له پوځي برید وروسته، تولید بیا ۳،۴۰۰ ټنو ته لوړ شو او ټولو ولایتونو ته خپور شو. همدارنګه تولید د اوباما په دوره کې لوړ شو (په ۲۰۱۷م کې ۹،۰۰۰ ټنه)، چې د امریکا له شتون څخه مخکې ۴۳ ځله لوړه کچه ښایي او په عمومي توګه د ناټو ځواکونو لخوا کنټرول شوي سیمو کې ډیر و. وروسته له هغه چې اسلامي امارت په ۲۰۲۱م کال کې واک ترلاسه، یو ځل بیا یې مخدره توکو کښت او قاچاق منع کړ. چې په پایله کې، په ۲۰۲۳م کې د کوکنارو د کښت ساحه شاوخوا ٪۹۵ (زر هکتاره) کمه شوه او د اپینو تولید ۳۳۳ ټنو ته راټیټ شو.اوس ۲۰ ولایتونه د کوکنارو له کښت څخه پاک دي او د مخدره توکو د قاچاق پر وړاندې منظم عملیات ترسره کیږي. همدارنګه د ۲۰۲۱م کال راهیسې د روسیې په بازار کې د نیول شویو هیروینو په مقدار کې (له ۱،۴ ټنو څخه ۳۱۹ کیلوګرامه ته) د پام وړ کمښت لامل شوی دی .

که وکتل شي هغه څه چې پدې برخه کې ډیر روښانه شوي دي، هغه په افغانستان کې د امریکا د شتون په کلونو کې د مخدره توکو د کښت زیاتوالی ښایي. اوس دا برداشت کیدی شي چې لیکوال په ضمني ډول غواړي چې د امریکا د پالیسیو په توګه په افغانستان کې د مخدره توکو د کښت زیاتوالی، د دوو موخو لپاره وارزوي. لومړی د سوداګریزې موخې لپاره او دوهم د روسیې په څېر هېوادونو په وړاندې د وسلو په توګه.

د مخدره توکو د موضوع په دوام، لیکوال یادونه کوي چې د اسلامي امارت لخوا د تریاکو د تولید کنټرول ترڅنګ، په افغانستان کې د مخدره توکو قاچاق له نويو ننګونو سره مخ شوی دی. د لیکوال په وینا، د تریاکو او د هغې د مشتقاتو پرځای، په افغانستان کې د "ناپټازین" په څېر خورا قوي او ډېر وژونکو مصنوعي افیونو تولید په چټکۍ سره زیات شوی دی. پدې برخه کې، شویګو په افغانستان او ګاونډیو هېوادونو کې په 2024 کې د متامفتامین نیولو کې 75٪ زیاتوالي په ګوته کوي، مګر یادونه کوي چې د دې موادو د تولید مرکز "طلایی مثلث" سیمې ته لېږدول کیږي، چېرې چې د تایلینډ، میانمار او لاوس د دریو هېوادونو پولې سره یوځای کیږي .

وروستۍ او ډېره مهمه موضوع چې شویګو ورته اشاره کړې ده هغه په افغانستان کې د ترهګرو ډلو شتون دی. شویګو، چې د مخدره توکو د تولید او ترهګرو ډلو ترمنځ په اړیکه باور لري لیکلي: "زموږ د ارزونې له مخې شاوخوا ۲۰ نړیوالې ترهګرې ډلې چې له ۲۳۰۰۰ څخه ډېر جنګیالي لري په افغانستان کې فعالې دي. داعش-خراسان (د داعش افغان څانګه) اصلي اندیښنه ده او د هېواد په ختیځ او شمال کې اډې لري. کابل د دې ډلو په وړاندې پوځي عملیات ترسره کوي، مګر د لویدیځ بندیزونو د دې مبارزې موثریت کم کړی دی. افغانستان ته د جنګیالیو لیږد، د سیمې د بې ثباته کولو او د روسیې، چین او ایران په پولو کې د ناامنۍ رامینځته کولو په هدف ترسره کیږي. چې د دې یقینی کولو لپاره دلیلونه شتون لري او د ځو لویدیځو هېوادونو استخباراتي اداري د دې کړنو تر شا دي. د روسیې، چین او ایران پولو ته نږدې ناامني د هغه افراطي ډلو لخوا رامنځ ته کیږي چې د اسلامي امارت سره دوښمنی لري. دا هم روښانه ده چې لویدیځ غواړي، چې د افغانستان په جبهه کې یې خپل ځایونه له لاسه ورکړي دي، پلان لري چې د ناټو نظامي زیربنا سیمې ته بیرته واستوي. سیمې ته د ناټو د بیرته راوستلو هڅه، چې د اسلامي امارت د نه پیژندلو رسمي اعلان سره سره کابل ته د پرله پسې ډیپلوماتیکو لیدنو سره مل وه. لویدیځ د شعارونو ترڅنګ په افغانستان کې د نفوذ د ساتلو لپاره هڅې کوي او له ترهګرۍ څخه د خپلو جیوپولیتیک سیالانو د فشارولو لپاره د یوې وسیلې په توګه کار اخلي.

## د مقالې د محتوا تحلیل

هغه څه چې د روسیې د ملي امنیت شورا سکرتر سرګي شویګو د افغانستان په اړه لیکلي دي په هیڅ ډول د یو فرد شخصي نظر په توګه نشو ارزولی. د افغانستان په اړه په مقاله کې ذکر شوي ټول ټکي، د کرملین حتی د روسیې ولسمشر ولادیمیر پوتین عمومي نظر دی. په لومړي ګام کې، شویګو د افغانستان د بیارغونې ټول مسؤلیت د لویدیځو هېوادونو په اوږو اچوي چې دوه اصلي پیغامونه لري: لومړی، د روسیې په نظر، افغانستان د امریکایانو د لوړو لګښتونو سره سره چې دوه ټریلیون ډالر وو شل کاله وروسته هم پر یو ویجاړ


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

هېواد تبدیل شو. دا پدې مانا ده چې متحده ایالات د افغانستان د بیارغونې په پلمه دې هېواد ته ننوتل، مگر د دوی د شل کلن شتون پایله د هېواد ویجاړتیا وه. دوهم پیغام دا دی چې د دې نظر په ویلو سره، روسانو د افغانستان د بیارغونې هیڅ مسؤلیت نه دی اخیستی او په راتلونکي کې به په افغانستان کې هر ډول ستونزې ورته ادرس(په افغانستان کې د آمریکا شتون) ته راجع کوي.

دوهمه موضوع چې شویگو ورته اشاره وکړه هغه د اسلامي امارت د تعامل پر بنسټ بهرنۍ پالیسي ده. د اسلامي امارت له راتگ وروسته، د اسلامي امارت بهرنۍ پالیسي د نورو هېوادونو سره د مثبت تعامل د اصل پر بنسټ اعلان شوه او د هغې سره سم په عملي ډول هم ښکاره شوه. که څه هم ډیري هېوادونه پدې پوهیږي، لیکن دا چې دا مسله د روسیې په څېر هیواد د لوړ پوړي چارواکي لخوا اظهار کیږي کولی شي په نړیوالو سیاسي بحثونو کې د اسلامي امارت وقار لوړ کړي.

د مخدره توکو د وضعیت په اړه، د دې روسي چارواکي نظر تقریبا متضاد دی. له یوې خوا، هغه د کرنیزو درملو د کښت او تولید په برخه کې د اسلامي امارت د پالیسیو ستاینه کوي، خو له بلې خوا، هغه افغانستان د صنعتي مخدره توکو د تولید مرکز گڼي. د هغه د استدلال اساس په گاونډیو هېوادونو کې د صنعتي مخدره توکو د لوی مقدار نیول دي. لومړی، که اسلامي امارت د کرنیزو درملو کښت او تولید په کمولو کې بریالی شوی وي، نو بیا د صنعتي مخدره توکو د تولید په برخه کې څنگه ناکام شوی؟ یا که د شویگو هدف دا وي چې اسلامي امارت پخپله په داسې کار کې ښکیل دی، نو بیا هم د یو بام او دوه آسمانونو تضاد شته دی. له بلې خوا د شویگو استدلال هم د پوښتنې وړ دی. هغه دا چې د افغانستان په گاونډیو هېوادونو کې د صنعتي مخدره توکو د نیولو اندازه زیاته شوې ده دا نشي ښودلی چې تولید یې په افغانستان کې شوی دی. د افغانستان حقیقي واقعیت دا په گوته کوي چې اسلامي امارت د هر ډول مخدره توکو د تولید سره مبارزه کوي چې دا حقیقت په عمل او د مستقیمو ساحوي مشاهدو له لارې لیدل کیدی شي. د هرې موضوع په پام کې نیولو پرته، د دې روسي چارواکي څرگندونې د هغو احصایو او راپورونو پر بنسټ دي چې هغه له غیر مستقیم سرچینو څخه ترلاسه کړي دي او دا ناممکنه نه ده چې وړاندې شوي احصایې د واقعیت منعکس کولو پرځای سیاسي اړخ ولري.

د ترهگرو ډلو د شتون په اړه، دې روسي چارواکي هماغه ادعا تکرار کړې چې د څو کلونو راهیسې د مختلفو سرچینو لخوا مطرح کیږي. له څو کلونو راهیسې، ډیري ادعا کوي چې په افغانستان کې له شلو څخه زیاتې ترهگرې ډلې شتون لري، مگر هیڅ یوې سرچینې پدې اړه کوم قوي شواهد نه دي وړاندې کړي. له بلې خوا، په دې څو کلونو کې د دې شلو ترهگرو ډلو څخه یوې هم د افغانستان دننه یا بهر هیڅ ډول محسوس فعالیت نه دی لیدل شوی (البته، د داعش مسله یوه جلا مسله ده، چې بحث به پرې وشي). نو پوښتنه چې راپورته کیږي دا ده چې دا شل ترهگرې ډلې په افغانستان کې څه کوي؟ آیا دوي یوازې خوراک او خوب

کوي؟! حقيقت دا دی چې دا ادعاوې ټولې بې معنی دي او د يو عيني واقعيت منعکس کولو په پرځای تر ډېره سياسي موخې لري. پاتې شوه د داعش مسله؛ داعش يوه نړيواله ډله ده چې نن ورځ په ډېرې هېوادونو کې شتون لري او فعاله ده. په افغانستان کې، دې ډلې د تېر حکومت په وخت کې پراخه شتون او فعاليت درلود، مگر وروسته له هغه چې اسلامي امارت په افغانستان کې واک ترلاسه کړ، د داعش پر وړاندې مبارزه په جدي توگه پيل شوه او د دې ډلې مرکزي هستې او تنظيمي مرکزونه له منځه لاړل. د دې عملي بېلگه همدارنگه، په وروستيو کلونو کې د داعش په بريدونو کې کمښت هم په افغانستان کې د دې ډلې د سخت کمزورتيا ښودنه کوي، چې البته دې روسي چارواکي هم تر يوې اندازې ملاتړ کړی دی. د شويگو په مقاله کې د ترهگرو ډلو په اړه يو مهم دليل د لويديځو هېوادونو ملامتي په گوته کول دي. د شويگو په وينا، د داعش پر وړاندې د اسلامي امارت مبارزه د څو لاملونو لکه د لويديځ بنديزونه او له بهر څخه افغانستان ته د جنگياليو ليږلو پر اساس ډېره بريالۍ نه ده، د بنديزونو په اړه د شويگو نظر سم دی. لويديځ بنديزونه نه يوازې د داعش پر وړاندې مبارزه اغيزمنه کړې، بلکې په افغانستان کې يې په ټولو سکتورونو هم اغيزه کړې ده. که څه هم لويديځ د ترهگرو ډلو په روزنه کې ښکيل دی او دا استدلال چې اسلامي امارت د ترهگرو ډلو سره د مبارزې توان نشتوالی يادوي، د اسلامي امارت پر هغو هڅو سترگې پټول دي چې دې برخه کې يې ترسره کړې دي او دوي يا د افغانستان ځمکنې واقعيتونه له پامه غورځولي دي يا يې د پخوا په څېر غلطې محاسبې کړې دي.

## د داسې مسلو په راپورته کولو کې د روسانو اهداف

د حقيقت يا مبالغې پرته، د شويگو لخوا روښانه شوي نظر د افغانستان په اړه د روسانو نظر سره ورته دی. مگر روسان د داسې مسلو په راپورته کولو کې څه غواړي؟ د روسانو لومړی هدف په افغانستان کې د لوېديځ انځور خرابول دي. که څه هم لويديځ په افغانستان کې د ستاينې وړ هيڅ شی نه دی ترلاسه کړی او په مسخره ډول له شلو کلونو جگړې وروسته له دې هېواده وتښتېدل ليکن دا تښته افغانستان هيرولو معنی نلري، بلکه دوي به د دې هېواد څخه په نورو لارو او نويو وسيلو سره کار واخلي تر دې چې دوي خپل اهداف ترلاسه کړي. که څه هم د روسانو لخوا پر لويديځ نېوکې د توجيې وړ دي، ليکن روسان لدې نيوکو نه د افغانستان لپاره، بلکې شخصي گټه پورته کول غواړي. دا پدې مانا ده چې د لويديځ د ناکاميو او تخريب يادولو سره، روسان هڅه کوي چې په نورو سيمو کې لکه اوکراين کې خپل عملونه او کړنې کمې يا پټې کړي. د مخدره توکو د توليد او د شلو ترهگرو ډلو د شتون په ادعا سره د افغانستان وضعيت خطرناک ښودل، روسيه د منځنۍ آسيا تهديدوي او د سيمې هېوادونه دې ته اړ باسي چې د مسکو په پوځي او استخباراتي ځواک کې پناه واخلي ترڅو د افغانستان له خطرونو څخه خلاص شي، او په دې توگه په منځنۍ آسيا کې خپل پوځي شتون توجيه کړي.

بله موخه چې د همدې مقالې په پای کې ورته شویگو اشاره کړې ده، هغه د افغانستان سره د مرستې لپاره د روسیې چمتووالي ته اشاره ده، روسیه غواړي امنیتي او استخباراتي همکارۍ په برخه کې د اسلامي امارت ډېر پام ځانته راواړوي. حتی د روسیې لخوا د اسلامي امارت په رسمیت پیژندل هغه امتیاز و چې روسیې اسلامي امارت ته د لا زیاتې همکارۍ د جلبولو لپاره ورکړ. سربېره پردې، شویگو د شانگهای سازمان کې د افغانستان د دریځ بیا رغولو یادونه هم کړېده، چې دا د روسیې د قوي لیوالتیا یوه بله نښه ده چې اسلامي امارت ځان ته نږدې کړي.

## پایله

د روسیې د ملي امنیت شورا د سکرتر سرگي شویگو د مقالې بیاکتنه چې د افغانستان په اړه ده، ښیي چې هغه ځینې واقعیتونه په گوته کړي او په جدي قضیو کې یې د صحنې جوړونې هڅه کړې ده، خو د هغه په تحلیل کې د صحنې جوړونې اړخ ډېر روښانه دی. دا څرگنده ده چې دغه روسي چارواکي په نړیواله، سیمه ییزه او افغاني کچه د روسیې د اهدافو په پام کې نیولو سره داسې صحنه جوړونه کړې ده. هغه څه چې روسان د دې صحنه جوړونې تر شا غواړي، هغه دا دي چې اسلامي امارت ځان ته نږدې کړي او تر ممکنه حده یې له لویدیځ څخه لرې کړي. حقیقت دا دی چې روسان د افغانستان اوسنی وضعیت د افغانستان له لویدیځ څخه د لرې کولو لپاره یو ډېر ښه فرصت گڼي او لکه څنگه چې لیدل کېږي، د اسلامي امارت د ځان ته نږدې کولو او افغانستان له لویدیځ څخه لرې کولو لپاره له مختلفو تاکتیکونو څخه کار اخلي. که څه هم د روسانو له خوا دا ډول هیله د اسلامي امارت لپاره ډېره ښه فرصت دی او د روسیې د لویدیځ سیال په وړاندې د اسلامي امارت د معاملې ځواک زیاتوي، خو د ختیځ ځواک او لویدیځو ځواکونو ترمنځ د واټن ساتلو لپاره احتیاط اړین دی. اسلامي امارت باید د متوازن تعامل پر بنسټ د هوښیارانه دریځونو په غوره کولو سره، په افغانستان کې د ثبات او اقتصادي پرمختگ د رامنځته کولو لپاره له هر شته فرصت څخه ښه گټه پورته کړي.

## وړاندیزونه

د پورته ذکر شوي مطلب محتوا او د دې حقیقت په پام کې نیولو سره چې د افغانستان په اړه د روسیې رسمي دریځونه په کې منعکس شوي دي، لاندې دوه وړاندیزونه کیدی شي:

1. د اسلامي امارت تبلیغاتي دستگاه باید د افغانستان د واقعیتونو په ښودلو او مستند کولو په ځانگړې توگه د مخدره توکو د کښت او تولید د منع کولو او په افغانستان کې د ترهگرو ډلو د نه شتون په برخه کې ډېره فعاله وي،

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

2 .اسلامي امارت، د ختيځ او لويديځ ترمنځ د توازن ساتلو سره، بايد د روسيې د ګټو په برخو کې د روسيې له وړتياوو څخه اعظمي ګټه پورته کړي ترڅو د هېواد ګټې خوندي کړي.

## سرچيني

[1]. Сергей Шойгу ,"Афганистан: тернистый путь к стабильности." 29/08/2025. Available at: https://rg.ru/2025/08/29/afganistan-ternistyj-put-k-stabilnosti.html
[1] . Ibid
[1]. Ibid
[1]. Ibid

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غير انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو د ارزونې او بډاينې لپاره فعاليت کوي.

**اړيکه:**

ايميل: info@csrsaf.org

وب سايت: www.csrsaf.org

شمېره: +93780618000

+93780618000